



Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributio
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers

(c) ketabton.com: The Digital Library

L.No.15

15

# جہان زیبی

## مشاعرہ

۱۹ ۵۴ء

۱۲ / دسمبر

باہ ______ تمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگورہ سوات

G.H.S.S. Kabal

(c) ketabton.com: The Digital Library

No. 15
16.6.57

۷۸۶

# جهان زیبی

# مُشاعِره

زیرسرپرستی سیف الملوک صاحب

صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date:
KABAL Swat

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی ملت حکمران سوات



# تمهیدِ کتاب

چونکه سنځکال دَ حضورِ اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبدالحق جهان زیب خان
صاحب حکمرانِ ریاست سوات دام اقباله دَ
جشنِ سالګیرۍ سنه ۱۹۵۷ء دَ ۱۲ د سمبر
پحفله جوړ دَ خوک وطن ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقي یو څلور طرحے دَ خپل فکر
دَ نتائجو نه منتخب کړے په هغوی باندِ ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهذا دا موږ دَ یو مجموعے په طور به خدمت دَ حلقهٔ احباب
او دَ ناظرینو دَ جشن کښې پیش کوو:-

(گر قبول افتد زهی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

# دَ نظمونو فهرست


| نمبر نظم | نوم دَ شاعر او دَ هغه نظم | صفحه | نمبر نظم | نوم دَ شاعر او دَ هغه نظم | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | تمهید کتاب | ٢ | ١١ | سلطان محمد صاحب | ٦٦ |
| ٢ | سیف الملوک صاحب صدیقی | ٤ | ١٢ | شیر صاحب | ٧٨ |
| ٣ | فضل الرحمان فیضان | ١٣ | ١٣ | مهر النساء صاحبه بانو | ٨٠ |
| ٤ | حبیب الرحمان حبیب صاحب | ٢٣ | ١٤ | پیر محمد خان صاحب | ٨٣ |
| ٥ | امیر حمید صاحب | ٣٣ | ١٥ | محمد نوشیروان صاحب | ٨٩ |
| ٦ | ایاز صاحب کراچي | ٤٤ | ١٦ | شیر افضل صاحب | ٩٦ |
| ٧ | عبد المالک صاحب فکری | ٤٧ | ١٧ | خانے قصاب صاحب | ١٠٠ |
| ٨ | شیر محمد خان صاحب مینوشی | ٥٥ | ١٨ | دلاور خان صاحب | ١٠٦ |
| ٩ | احمد جان صاحب نشتر | ٥٨ | ١٩ | دَ ناظر سوپیر خدمت کښ | ١١٨ |
| ١٠ | مولوئ ضیاء الحق صاحب | ٦٣ | ٢٠ | دَ عقیدت گلونه | ١٢٠ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یوزه یوازے نه یم چه پهٔ دے یم خوشحاله

راځه تماشه اوګوره هر طرف ته ځما لاله
یوزه یوازے نه یم چه پهٔ دے یم خوشحاله

راځه تماشه اوګوره د اقبال ختلے نمر دے
مولی په لوئ احسان راکړے دا دریم اختر دے
خوشحاله قام پهٔ دے چه جهانزیب د دوی رهبر دے
بل ګوره ځما د وړه چه نن ۱۲ بارهٔ د سمبر دے
هم رو به ترقی دی دوی دا جشن کال تر کاله
یوزه یوازے نه یم چه پهٔ دے یم خوشحاله



اوس جوړ د ترقی ځوبن د پاره دی اسباب
ختلے په عروج د سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو موبن والی عالیجناب
دا ټول د ده همت دے ځان خبر کړه د احواله
یوزه نه یم چه پهٔ دے یم خوشحاله

صحت درله در کړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان واړه هر یو پهٔ دے ساعت مسرور دے
فرمان چه څهٔ کوے په صدق مونږه ته منظور دے
د قوم د ترقی خدمت د نوز علی نور دے
شهزادی د دوړی شو له بهتر د زرین شاله
یوزه یوازے نه یم چه پهٔ دے یم خوشحاله

وطن د باغ رم کړه څوک ناشکره د احسان دی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشکره به هغه وي چه په مِثل د شیطان دے
اصیل به خوشحالیږي په مونږ فضل د سبحان دے
حِصه د منافق دلته هم هلته کښې نیران دے
محروم به ژوند کښې نه کړے صدیقي د خپل وصاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یمه خوشحاله

---

طرح

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

نن باره دسمبر دے پښتنکان راغله په شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

نن باره دسمبر دے خوشحالي ده په هر لور
هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دي کور په کور
غُنچے شنے د خندا نه پړے بُلبلے کوي شور
دعا کوي سلطان ته چه یې ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یې شته د بل نه طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالي ده په چا نشته درد و غم
دُعاء کوي الله ته د خپل والئ اعظم
ادیب شاعر چه ولاړ دي کړه قرطاس ته خپل قلم
اوصاف د جهان زیب لا پوره نه وو زر شه ختم
جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د چا لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے
دا هم د خدائ د لوري په مونږ فضل عنایت دے
خندیږو، خوشحالیږو په هر ځائ څو مونږ وقعت دے
غمخوار د هر یو کار ځکه غازي د ملت دے
په تا چه څوک خفه وي رب دِ زر تر زنه کړي قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نن اُو نه کړي دا بد بخته بې کردار دے
خلاف د اُولي الامر په تحقیق کښې ګنهګار دے
تعمیر انصاف د سوات په مثل بل په کوم دیار دے
صحت دولت د علم کړه حاصل که ستا پکار دے
حق وایه صدیقي حق ته دِ ټهیک و نسیم سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

د
## هر سړي موندلے لویه برخه ستا لاسه ده

---

داسې تجربه مِ په تحقیق کښې د احساسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

هر سړي دِ فکر ځان ته نن او د پرون اُو کړي
فرق په د ښتیا دِ د وصال او د بیلتون اُو کړي
بل د زړه په سترګو دِ کتنه د ګردون اُو کړي
شکر د الله دِ په دے عهد د مامون اُو کړي

PUKHTO.NET



ستره چه ماضي حمونږ د حال د انعکاسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

نښته یو مثال چه به وي دا دور و دوران د چا
نه به یو منصف، عادل، بیدار وي حکمران د چا
نه به زیب زینت لکه حمونږ وي په جهان د چا
داسې رقیبان به په تعجب نه وي حیران د چا
لویه تجربه دِ د لقمان او بلیناسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

تا د ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے
بل دِ د صحت تعلیم عجب غوندې تدبیر کړے
ښکلے کور په کور رچه انتظام دِ د تنویر کړے
هر ځائے کښې انصاف دِ د غریب او د امیر کړے
ځکه خَيْرُ النَّاسِ وَمَنْ يَّنْفَعُ النَّاسَ ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي
خدائیګو که انسان وي دے به فخر ستا په ذات کوي
یا وه قتل خون یا مطالعه د کائینات کوي
ځکه هر یو کس په دے خلوص صدق صفات کوي
هر ځائ اورېدے صدیقي د حق شناسه ده
هر سړي موندے لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

محفوظه خزانه وي چه پلاس کښې د آمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

په صدق چه خدمت کوي مالیار د ګلستان
بلبل ورله راغواړي بل ترے لرے کړي زاغان
زاغ و زغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان
هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران



ګویا په دغه قوم فضل د رب العلمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

مشهور په تواریخو کښې دے عدل د جهانګیر
ترلے د انصاف د باره ده به وه زنځیر
مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر
وډیل به ئې فریادي ترداته اوډ کړه تقریر
سلیم په دغه وصف یادیدلے په تحسین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

یو څو خبرے واوره ته د غازي ملت
رښتینے نګهبان دے د خپل ملک او رعیت
بخپله د سپاهي پښتان ولاړ وي په خدمت
فریاد د فریادي اوري هرځائ په هر ساعت
اوصاف ئې نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

PUKHTO.NET

دَ ده په برکت باندِ وطن ځمونږ سمبال دے
هر يو ته په خندا دے هر يو کس ته په نيک خيال دے
دَ ده دے نظم نسق ته هر يو سړے ليوال دے
تعمير ئے صديقي په دے زمان کښې بې مثال دے
ممد او معاوِن دِ دَ ده رب په هر يو حين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دِ يقين شي

---

# سيف الملوک صاحب

## صديقي - سيدو شريف



# فضل الرحمن فيضان شاعرِ خوشنويس
## رياستِ سوات

---

### طرح

يو زه يوازے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

---

رازه ګله رازه چه دِ خبر کړم دَ حاله
دا نه چه بيا ځما نه ته ګِله کوے صباله

نن بارَه [۱۲] د سهر ستړګے وِهي ځمونږ پلو ر
يو ناوے دَ مکيز د ا خله شوه ځمونږ په کور
ګلونه دَ عِشرت دَ زړه په باغ کښې شو سمسور
دَ سوات په ګلستان کښې بلبلان ګڼه شو په شور
خوشاله خوشحالي ده نن دَ هر سړي دَ خياله
يو زه يوا ځے نه يمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقاص شوم
د عامُ نه جدا شومه د خاصُ سره خاص شوم
میدان د تصوّر ته ورد ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکے لکه غوّاص شوم
خارج م کړه لعلونه چه قبول دې ک ډ له کماله
د شاه د تاجپوشئ په تاج جوړ م کړه لاله
نن جشن د حضور دے که د نوئ اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا بشکلے پلوشه ده سرو هې پوره په کال
یا دا چه په هجران پسے مدام راځي وصال
نن جونه د جشن تماشے کړي د دیواله
نوئ دنگے غرانگے سره بهر کړي د سوشاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندې خوشحاله



د خیال په آئینه کښې درته ښنا یم یو تصویر
په هوش شه هسې نه چه شے د څا په هواګیر
د سحر د جادو نه درته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشي د ضمیر نه په ضمیر
**فیضان** خپل تخیّل کړو د شاه مینے ته لیواله
الفاظو ئے په زخم د زړه کښېښوده دسماله

طرح

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

یو وزرے زه د سیل د پاره تلے وم صحرا ته
ګلشن د خوشحالئ کښې ګرزیدم مزه هر خوا ته
یو زړے عجیبه بهار په غوګ کښې اوو ماته
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوات په ګلستان کښې نن چغیږي بلبلان
محفل ته د ادب واړه غونډیږي ادیبان
په یادو د سلطان کښې مشغولیږي شاعران
د جشن په جوبن کښې بیا او بیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

د باره ۱۲ دسمبر تاریخ به یادیږي په هر حال
چه د اسے سالګره یکښې کیدے شي پهر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن د هر سړي په خیال
د جشن په دے شپه کښې تر صبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

د جشن فریدون او د نوروز نه د جمشید
ځمونږه جشن زیات دے دا ځمونږه دے یو عید
آزاده آزادي ده یکښې نشته د غم قید

PUKHTO.NET



یو ښکلي محفل کښې شاهګن کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

یو سیل دے تماشه ده پهر ځائ پهر مکان
تاریخ تازه کول دي نن د سوات د حکمران
دا حکمرن راغونډ شولوئ واړه زاړه ځوانان
د دے خوشحالئ نه په رشتیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

د انچاس نه د چوّا پورے اوشو د اسے یاد
په باره ۱۲ دسمبر کښې حاصلیږي ځمونږ مراد
**فیضانه** حکمران دے ځمونږ تل وي زنده باد
نن عام و خاص د پاره دعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ډیر ډیر فوائد دِ د رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسے دِ دے پسر هر یو انسان وته
نشته دے سلطانه د عیان نه څه بیان وته
هره نتیجه دِ د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یې داسے مسیحا یې ته
چرته مره ورنه یې خو هرچا نه بخلایې ته
هم څو نن د غم د شپے د پاره یو صبا یې ته
هره فائده ستا څو نن د پاره بے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سواتو وطن آباد شه بنه
علم دِ ازده کړه ورته جهل نه آزاد شه بنه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښې یاد شه بنه
دا د سواتو ته خکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واره
تا د ترقۍ په عروج جوت کړه ریاست واره
خکه دے لګتا نه تول خوشحاله رعیت واره
ستا مهربانۍ د نوے بلے نه لګیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے باره دسمبر دِ مبارک وی ستا
ډیره خوشحالی دِ اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستورے د اقبال دِ تل روښانه په فلک وی ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دُعاء ځمُونږ ده ستا په حق کښې بې وسواسه
هر سړي مونده لويه برخه ستا دَ لاسه ده

تهٔ دې ژوندۍ بادې حکومت دې ستا مدام وي تل
سوړې دَ رحمت دې ستا پر مونږ علي الدوام وي تل
هم دې دَ **فيضان** حقير پيتا دعا سلام وي تل
دا انشا دې شروع ځمُونږ دَ اُنيس سوُ انځاسه ده
هر سړي مونده لويه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح

دروغ نهٔ دي رښتيا دي په رښتيا که دِ يقين شي

---

تو ردې که سره شنه دي هم که زيړ دي او که سپين شي
دا که په يو رنګ شي نو بيا جوړ به ترا آئين شي



راشه دوو رنګي پرېږده په يو رنګ سره رنګ شه
ته کنې عاشق نو دَ آشنا دَ در ملنګ شه
زر شه دَ باطل دَ پاره غشي دَ خدنګ شه
دوست به دې خوشحاله شي دښمن به دې غمګين شي
داسې کارنامې به دې بيا لوړې ترا علّيين شي
ځان دَ اِتحاد په رسئ اُوتړه محکم بته
ذهن دَ تفريق دَ مينځ نهٔ واړه ګړه مدغم ته
زړه دې به چاړه دَ شاه دَ مينې کړه قلم ته
څوک چه داسې کار کړي په رښتيا سره نازبين شي
داخو دروغ نهٔ دي په رښتيا که دِ يقين شي
راشه دروازه دَ يقين اُو وَهه په زوره
خپل يقين دِ خاص کړه بيا هله لمتوه نوره
ولې ته ديده او دانسته ګوځې شمکوره

Govt. High Secondary School
Acc No.
Date
KABAL Swat
PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو آمين شي
تيږ نه وي بيا خلقو ته ډير څوک لکه ګبين شي

ته په صداقت د جهانزيب د در غلام شه
ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه

څو به يې بدنام ته د وفا په نوم نيکنام شه
مخ په صدق ويځه چه روښانه د جبين شي

هله به بيا روڼ درته د يار د مخ آئين شي
خيال کړمه مجبوره زه په دے معمّا کا نو

دا تشے قصے نه دي که واورئ هوښيارانو
دا يو معمّه د مطلب ده که ده يارانو

وائي **فيضان** تاسو ته که پوهه پرے دوربين شي
کوزه بايه بره، بره کوزه د خودبين شي

فيضان سوات عفي عنه سيدو شريف

PUKHTO.NET



# ښاغلے حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

## طرح

يو زه يوازے نه يمه په دے باند خوشحاله

نن باره د سمبر دے هر سړے ګرځي له خياله
يو زه يوازے نه يمه په دے باند خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دے هغه مياشت د دسمبر
ختلے چه پرے تخت وه والي صاحب بهادر

هر چا ته هر سړے راځي خوشحاله په نظر
دا زيا ته خوشحالي ده پرے رسيږي د بل کاله

يو زه يوازے نه يمه په دے باند خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له دَ والی صاحب والی
یو زه یواځے نه یم چه یې کړمه خوشحالی
دَ سیالٔ سره چه سیالٔ نه دِی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره یې کړو ورځ وینم بدحاله
یو زه یوازے نه یمه یه دے بانډِ خوشحاله

داورځ دَ خوشحالی ده نن دَ هر یو مسلمان
هر ځائے کښې خوشحالی ده به هیچا نشته خفگان
تاریخ دَ تاجپوشئ چه دے ځوئ دَ حکمران
وه چه زبون حال هغه نن کړے زبون حاله
یو زه یوازے نه یمه یه دے بانډِ خوشحاله

داورځ دَ خوشحالئ دَ اهلِ سواتو دَ اقبال
دَ ۱۲ بارۀ دسمبر ده مبارک دَ دے کال
ده دا سے خوشحالی لکه دَ عید ده په هلال



دا بارهٔ دسمبر یکښې تاریخ وینم نیکفاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

آمان دَ انقلاب نه ځوئ دِ حکمران وی
دنیا کښې تر څو پورے چه دا زمکه دا آسمان وِی
هم دا سے دِ په قام بانډِ مشفق ځوئ سلطان وِی
دُعا دَ حبیب داده اے خالقه لایزاله
یو زه یوازے نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

---

## طرح

## طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
نن بارهٔ دسمبر دے شاه گډ کیناسته جمع
دا بارهٔ دسمبر یولوی اختر دے دَ اولس

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته ګورم چه کوی خندا هوس
د ډېرې خوشحالۍ نه په هر ځای کښې د مجلس
حسد او کینه لاړه نن اعدا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

بې حده خوشحالي ده ریاست کښې کور په کور
چه ورځ د تاجپوشۍ ده د والي صاحب غمخور
په زیاته خوشحالۍ له کمه باخیده رنځور
آغوستي خې جامې خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ټول خلق راغونډ د خوشحالۍ شو په میدان
هر یو کړي خوشحالي په تاجپوشۍ د حکمران
په هر کلي د سوات کښې په هر ځای په هر مکان
محفل د خوشحالۍ کښې یار آشنا کیناسته جمع



امیر دې که فقیر دې کړې هر یو انتظام
هیشونه دی جلسې دی ، دعا ګانې کوی قام
څوک چه بې آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان د سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ښکاریږي هر طرف ته دروازې ښې مزه دارې
حیران شي په دې ورځ چه مسافر درومي پلارې
نور وائي مسافر خنګه اختر شه په تلوارې
حبیب وائي کاروان تیر په سودا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

## طرح

هر سړی موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

---

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضوره ما ایستلے بادشاهي ستاسو قیاسه ده

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

موندلے لویه برخه هر یو کس لتا سلطانه

احسان مالي جاني کوے د هره مسلمانه

بیا خاصکر په عاجزو ئے بے حده مهربانه

هم د ډیر د احسانو نه هم جزا دِ سمي لاسه ده

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

په مثل د حاتم دِ حکمرانه سخاوت دے

لایق د ډیر تحسین د آفرین دِ حکومت دے

د عدل د انصاف دِ په کلي جهان شهرت دے

ستا فیصله هره د میزان او د قسطاس ده

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

هره فیصله کړے په انصاف عدل پسند ئے



پر دے نوم د انصاف په تمامي جهان سر کندئے

موصوف په دے اوصافو په چترال به دیر درښدئے

تعریف دِ دنیا ټوله کړي د لاندي کمزلیا سره ده

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

حاکم دِ وي حاکم چه ورپکښ عدل انصاف وي

صدق چه له بهانو د رشوت نه صاف وي

مجرم چه جرم اوکړي په اقرار باندي معاف وي

له دے نه چه خلاف شي بیا توبه دِ د خدا سره ده

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاوند دِ خه نصیب کړه زیات له دے نه ښه اقبال

چه کوچي مظلومان دِ په انصاف عدل خوشحال

محصون دِ له گردش د انقلابه او سه آل

دعاء د مظلومانو تیره سخته د الماسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن بارہ د سمبر دِ تا جپوشی دہ حکمرانه
دا نیک فال تاریخ دَ هر یو کس و ینم شادانه
دا ورځ له اختره کمه نه ده مهربانه
هره خوشحالۍ دَ کال دَ هر یوې دَ پاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

دا حبیب له صدقه خپل مالک ته به د سوال کښي دے
تل دَ تضاعف دَ سالګیرۍ دِ کال په کال کښي دے
بل دَ نیکنامۍ غرض بے هر زمان په خیال کښي دے
دالا دَ نجات هر مسلمان له بے وسواسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شي



سوات ته چه څوک راشي پرے رحمت دَ رب متین شي
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شي

لا په چه یو ظالم او بل مظلوم شي عدالت ته
دِ یر په خوشحالۍ مظلوم راضي مظلوم غمګین شي
زغلي عدالت ته مظلومان له هر طرف نه
سوال دَ دوئ قبلیږي په یو خفه ظالم بدبین شي

په سوات کښي مساوات دَ معتبر او دَ غریب دے
حق رسي ئے کیږي که څوک خان او یا مسکین شي
زیات له مورو پلاره مهربانه شا په قام دے
بیا په کومه وجه رعیت به تر غمګین شي

ن په انتظام باندِ خوشحاله رعیت دے
نه غواړي هیڅکله چه بدل دِ دا آئین شي

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت په هغه چاوی چه مطیع د حکمران وی
د شاه نه چه خلاف شی هغه رورد شیاطین شی

د غلو شو کمار و نشته مسافر ته خطر
نه فکر لری غم که په صحرا سر په بالین شی

حبیب والی نصیب دی د والی عمر د نوح شی
د قام ده دا دعا د فرشتو دی تل آمین شی

## حبیب الرحمٰن حبیب
گالوچ - سوات



# ښاغلی امیر حیدر صاحب بونیری
## ریاست سوات

طرح

یو زه یو ازې نه یمه په دې باندې خوشحاله

یو زه یو ازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
دا باره دسمبر دی خدای محفوظ کړی درازو الله

یو زه یو ازې نه یمه خوشحاله بټول جهان دے
د سوات په ښکلی زمکه جهان زیب چه حکمران دے
مرغی والی سندرې چه دا خنک امن آمان دے
مولی دی په ښادی لری دا کال ترپلـه کا له

یو زه یو ازې نه یمه په دې باندې خوشحاله
مولی دی په ښادی سره لری د والی ذات
ذات د ده خوشحاله وی خوشحاله دی سوات

به عدل به انصاف کښې شاه آغستی دی صفات
قدم نقش قدم ئې ډېر بوړک دې دَ کماله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

قدم نقشِ قدم ئې زَوِ یه ده دَ اسلام
اِسْلام هغه اسلام وِی چه ئې درست خیرْیِ انجا[م]
انجام دَ نیک خویونو به والی کښې دِی تمام
دَ مُلک او دَ ملت خبره نده ترې محاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

دَ مُلک او دَ ملت به محبت کښې وی غرقاب
دَ خوارو غریبانو به خدمت کښې وی غرقاب
قانون ئې شریعت دې شریعت کښې وی غرقاب
آوازې دَ توحید دې اَو ریډئې دَ بلاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله



آوازې دَ توحید دې اَو ریډ لې برابر
[خ]دای رسول ته دُرست وی هغه اُو کړی مقرر
[پ]و ورزې دَ باغچې بلورې تله امیر حیدر
بلبل ته کل ویلو چه به ته راځې صبا له
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کینا سته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع
طوطیان په ګلستان کښې دَ ګلونو ننداره کړی
[ګ]ل خاندی خوشحالیکی څوک دَ خپل جوش نعری کړی
[ګ]ل دَ ګلو اخلی برې محو کې دواړه سرې کړی

زاغان په تېختر لاړه په بېدیا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې چه صبا شي خوشحالي کړي
چه باد د صبا راشي پاڼړې خاندي قوالي کړي
نغرې د زندګۍ باد کړي زندن باد چه د والي کړي
خوشحاله تمام قوم په مرحبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې مصلحت کوي د عیش
هر یو په خپله ځ به اشارت کوي د عیش
دنیا کښې په دنیا خلق صفت کوي د عیش
ټول قوم مخامخ د رهنما کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي خندل
محفل کښې چه خندا کوي هم دا کوي کستل



ورځ به د والي به مساوي نه وي څوک بل
جلوس کښې د ښادۍ څوڼې دا د کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوي مذکور
ورځ د خوشحالۍ نه معلومیږي مخ ضرور
پاره دسمبر د سالګیرۍ کیږي دستور
میدان کښې مجلسیان په رضا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

محفل کښې خوا په خوا دي د یو بل نه تپوس نه
په حق کښې د والي غواړي دعا ټول اولسونه
مخلوق کړي د خپل توانه خیرات نه مجلسونه
یاران د امیر حیدر لاس په دعا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح نمبر ۳

هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده
دا خبره هم هر چا و ښکلے دَ خپل قیاسه ده
هر سړی موند لے لو یه برخه په خدمت کښی ده
هر یوه صیقه دَ شرافت په صداقت کښی ده
ما هم اوریدلے دا وینا دَ عوام الناس ده
هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده
ما هم اوریدلی چه دَ قوم ځان خادم کنړے
ته خدمت دَ قوم کړے، نه چه ځان حاکم کنړے
تلے دا فقره دَ فکر پورته دَ وسواسه ده
هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده



دا فقره دَ فکر پورته ستا دَ وصف ده
نده باد نعره هم هر یو لو رته ستا دَ وصف ده
عدل کړے انصاف کوے دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده
عدل کړے انصاف کوے نه چه ته ظلمونه شته
نه په ترقۍ شه داسے نور قومونه شته
ښکل په اخبارا تو کښی لیک دَ حق شناسه ده
هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده
رست په اخبارا تو کښی لیک جهان زیبا ئے ته
ځکه مهربانه په عاجز و غربا ئے ته
تیزه رسائی دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده
تیزه رسائی دَ عقل ستا په سیاست کښی ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښی ده

PUKHTO.NET

ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وينا نخاسه ده
هر سړی موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده
ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وَينا اثر نه کړي
بل طرف ته کوچ به هيڅ امير حيدر نه کړي
دامِ عريضه به د سهر دَ اِلتماس ده
هر سړی موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرحِ ۴

## دروغ نه دِي رشتيا دي به رشتيا کړه دِ يقين شي

---

دروغ نه دي رشتيا دي به رشتيا کړه دِ يقين شِي
لال نشي پټيدلے که به اير و زير زمين شِي
دروغ نه دي رشتيا دي به رشتيا يقين بکار دے
يقين دَ مسلمان دَ پاره ښه ښکلے کردار دے



…اُر به ناجائزه چه بدل کړي ګنهګار دے
رشتيا به څنګه پټ شي يو سړے که نکته چين شي
دروغ نه دي رشتيا دي به رشتيا کړه دِ يقين شي
…رشتيا چه پټوي دا پټول ګناه عظيم دے
…سوات والي تر خپل اُستاد دَ خو کړے تعليم دے
…نه دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سليم دے
هم دا سے نور قومونو له امام دِ جوړ آمين شي
دروغ نه دي رشتيا دي به رشتيا کړه دِ يقين شي
هم دا سے نور قومونو له دِ شي امام ښکاره
…غيرت به شجاعت کښي دَ آغستے نام ښکاره
…دنيا کښي کوټه به کوټه باندِ چه شي اسلام ښکاره
بيدار شي هغه قوم چه بادشاه ئے نيک حسين شي
دروغ نه دِي رشتيا دي به رشتيا کړه دِ يقين شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدار شی هغه قوم چه نیک خو یې حکمران وی
خدمت چه د مخلوق کوی په ده رب مهربان وی
هغه زمکه او غروونه کانړی لوټې گلستان وی
په چا باندې نظر چه د خپل رب العلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په چا باندې نظر چه وی د رب هغه عادل وی
هغه ترمرتبې د خو اخلاقو هم حاصل وی
د سوات والی پښانه خدای خبر چه څوک عاقل وی
په باره د سمبر کښې څما چهاپ به مضامین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په باره د سمبر کښې کور په کور باندې بنادی دی
دشمن دې یې ذلیل شی چه په زړه یې ناسودۍ وی
آزاد خو د غزوندې بل به څه د آزادۍ وی



په غیر د شریعت نه که قائم بل یو آئین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په غیر د شریعت نه ریاست کښې دستور نشته
قصور دے د نادانو د دا ناوه قصور نشته
بیا کوم د ځانه ماته دے کښې ضرور نشته
شاعر امیر حیدر دې مولا نه کړی چه غمگین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

## امیر حیدر بونیری

PUKHTO.NET

## ښاغلی ایاز صاحب د کراچۍ نه

### طرح ۱

یو ځکه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

پرون "د پښتنو "ننګ" په خندا را غلو صبا له
زیرے د ښادۍ ګونده هُدهُد راوړو سبا له
غر د سلیمان د ننګ غرۍ ولاړ صدا له
پیغله د آیلم بیا جوړه شوے ده ګټ اله
بخت او تخت او تاج د خلق توب څنے ځا ریږی
که ناز د پښتونخوا باندِ نازونه دی نازیږی
تقدیر به ګټالے او تدبیر ولاړ پړکاله
فطرت په سرو منګلو کښی حِنا راوړه حیاله



نختر په نورانی غنګ کښی ضیا راوړه ضیاله
نشے له مستیو ډکے د صبا راوړے صهباله
تقدیر او تدبیر دواړه له مړاسے قربانیږی
ښادۍ له خوشحالۍ نه په جامو کښی نه ځائیږی
فردوس د پښتنو د خوږیکے پښتونخوا له
رضوان زیرے د رکړے هسے رنګے د دنیا له
ورو نه د ښادۍ د ګوډیے لرسن هم چاله
حیرت هم ارادو د مشیت ته دے دو چاله
خلق پښتون آدم ته خلافت سپارلے کیږی
سواد ته د هیواد چه د ښادۍ په تال زنګیږی
خیبر چه چا خبر کړه د ګے هسے رنګ احواله
"وے یوی یم په ده یوی یم" وجو بیار اغلو ځلاله
کمال د پښتنو و زیږیدونکے له زواله
کمال هسے کمال چه تکمیل مومی له کماله

(c) ketabton.com: The Digital Library
PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازي چه تا ته ګورم ننګيالي م را ياديږي
جهان زيبه! تا ته ګورم ابدالي م را ياديږي

مبارک دِ شه دا جشن اې په سيالو کښې بې سياله
يو زه يوازې نه يم په ډې باندِ خوشحاله
پښتو په ګډه دا شه چه يې واک دراغلو تاله
ښادي به وې نه کړي چه پخپله شوه واکواله
وارث پښتانه په هر وطن کښې خوشحاليږي
نوبت چه نن د سوات په سر دروکښې ستا غږيږي

اياز کراچي



## ښاغلي عبدالمالک صاحب فکري
## تندوړاک - سوات

طرح ۱

يو زه يوازې نه يم په ډې باندِ خوشحاله

مرحبا فيض موندلې ډې بيل بيل ستا د اقباله
مطمئن، خورسنده، ستا په دورِ باکماله
سوات ډک بونير ډې دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوي هر څوک د ذوالجلاله
يو زه يوازې نه يم په ډې باندِ خوشحاله
نور د رحمت يې قام له ګورے لا رے صافے
ظلم دِ ورک کړه فرشته چه د انصافے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم چه اخلې مکمل وي، نه کړې لا

وړاندې هر سړی ستا په اقبال شه د ځيل سيال

يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحال

لوړه، که جوړه ده، که ختې دې که کمر دې

کلې دې که ښهر دې که سمه ده که غر دې

هر ځائ غوړيدلې ستا د عدل ښه څادر دې

نشته منزرې هغه بيزو وته ليوال

يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحال

ژمې وي، که اوړې يکښې هرڅوک خې مزې کوي

پره تر هغه نشته څپلې خپلې مشغلې کوي

امن او امان دا دې فکرې نه څوک ګلې کوي

قام د سړوا د علم په دولت شه مالامال

يو زه يوازې نه يم په دې باندې خوشحال



## طرح ۲

## طوطيان په ګلستان کښې په خند اکيناسته جمع

---

طوطيان په ګلستان کښې په خند اکيناسته جمع

رت چه د خزان ويکښې اوکړه قلع قمع

ه ن د بهار په ښه موسم شه ګلستان

ق د حدة زيات شو غوټو او سپړه د لو ځان

ګل شه په خند اچه پسر لي او کړو اعلان

بلبل هم نغمه زن شه د وصال د ګل په طمع

طوطيان په ګلستان کښې په خند اکيناسته جمع

افغان د باغ لاړه، مهر با نه شته خاوند

صياد ورک شه ظالم نغمې غږېږي خوند په خوند

مستې کوي خوشحال دي پرند چرند په ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوی دِی که واړه دی هرچا بیاموندله نفع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر دے

داوړح دَ سعادت ده ښکلے دَوَر بختور دے

وطن ټول چراغان دے ځکه باره د سمبر دے

رڼا دَ قمقمو ده هرځائ بله ده هم شمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضی دی دَ غازی نه په ښه شان سره قوموند

په دَوَرِ جهان زیب باندِ او باسی تل شکرونه

فکری یوازے نه هر یو منصِف و ائی حالونه

فیضیاب ئے په فیض سره هرڅوک دی نشته منع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح نمبر ۳

### هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

دا صدا ځما نهٔ ، بلکه دا دَ عامُ الناسه ده

فیض موندلے چا نه دے؟ مړو مړ څوک دی؟ وایه

ا په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائ؟ خدا یه

ښه په کوټ او کوڅه حال احوال ، نهٔ چه دَ دورایه

نوره دَ انصاف دِ تیره زیاته دَ الماسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَلاسه ده

شکر دَ اکبر دے سوات پیتا باندِ روښانه شهٔ

نښان اُوچت ئے دوره زر چه دَ هر چا نه شهٔ

اقبال دَ چا دے چه محفوظ دَ هر خزانه شهٔ

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکمال دَ دے چه منګول پرے ستا الیاس ده

هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ن دَ قام دَ پاره دلته هر ځائ اسکول نه دی

نو دَ ترقئ هم ستا دَ وړاندِ اسکیمونه دی

هر خوا ته موجود ستا دَ تعمیر بنه مثالونه دی

دے داحقیقت، هسے خبره نه دَ قیاس ده

هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

لاس په نام و لاړه فکری دُعا ستا دَ اقبال کوی

ړ دِ ستا حاصل شی په دارین کښ دغه سوال کوی

ته چه رهبری کوے تفصیل ئې دَ اجمال کوی

ناګویا آغستے چرته خوند دَ الیاس ده

هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

~~~~~~



## طرح ۱۲

## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

یو باغ دے پکښ تل چه وی بهار

دَ پکښ ګرځی بلبلان کوی چغار

ته ده دَ جنت اَمن آمان پکښ بسیار

ان ئې خبردار دَ زمانے دے په اسرار

جنت به وایم سوات ته که جنت په سر زمین شی

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

ه ده دَ جنت زیب و زینت لری بے شانه

رت پکښ جوړ کړی مناظر دی لا بیانه

دی ګل، غوټئ پاڼړے هم ناچ کوی دَ ځانه

آواز دَ طائرانو اورېدے شی دَ هر خوا نه

PUKHTO.NET
~~~~~~

(c) ketabton.com: The Digital Library



احوال او گوره راشه چه حال د تره تسکین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

نظیر دے د جنت بشکلے د سوات ازمکه نامدار

طوطیان پکښې چغار کوی بے خوفه له آزار

دا دور بختور دے، دی هر څوک شکر کنه ار

خزان د مولی دور لری د دے چمن گلزار

په امن د آقا تو د د د هر یو مکین شی

صد شکر د اکبر دے چه په امن کښې اول یو

د قحط کښې مکسته یو د هر قسم غوبل یو

اقبال د جهانزیب دے منظم او مدلل یو

د علم په زیور سره فکری! بنده مکمل یو

حافظ دې د غازی څومبر الله العلمین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(عبدالمالک فکری، تندوڈاک سوات)



# فخر الشعراء جناب آغلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندی (صوابی)

## طرح ۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

هزار ځلے دشمن که یے باکه نکته چین شی

هلال چه د خودی چرے کمال سره قرین شی

جمال د قاهری یے هله ستورے د جبین شی

د وحنت په کوته کښې د سلیمان هغه نگین شی

په تخت د حکومت بانده فائز به بنده تمکین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چه دِ محکم شهٔ نو قوّت ترِ نه جوړېږي
چه پاک دِ شه قوّت نو حکومت ترینه جوړېږي
چه نیک دِ بصیرت شه، عدالت ترینه جوړېږي
که روغ دِ وهٔ سیرت نو شجاعت ترینه جوړېږي
په ذات دَ جهان زیب کښې به داګل درته آئین شي
دروغ نه دِ دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

پلاس کښې دِ قلم دَ مقدر وجود کتاب دے
دَ ژوند په سمندر کښې دِ آسمان فقط حُباب دے
په سترګو دَ مؤمن کښې دَ ادراک جهان سراب دے
دَ دهٔ او دَ حق مینځ کښې دیر نرے غوندِ حجاب دے
اُوچت شي دا حجاب چې چه روح ئې دَ شاهین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

دَ سوات دَ والي کار واره تعبیر دَ ژوندګئ دے



جهان دَ تصوّر کښې ئې تفسیر دَ ژوندګئ دے
حیات ئې سراپا وینه نو قسیر دَ ژوندګئ دے
په فهم و فراست کښې ئې تدبیر دَ ژوندګئ دے
نظام په محکمئ دَ ښهٔ سیرت سره سنګین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

په غاړه دَ مینوش کښې که دا طوق ئې دَ خدمت دے
نو دَ والي صاحب نښان دَ محبت دے
وجه لازم بما ئې تول عُمر صفت دے
نمک چه چا حلال کړهٔ نو دا عین شرافت دے
کمال دَ حُسن هم دے داکه ګورے چه نمکین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

---

شیر محمد مینوش تورلاندی، صوابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلے احمد جان صاحب نشتر علیګړ، سوات

### طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله

دلشاد ګرځي آزاد شه هر نفر چه د جنجاله
یو زه یوازے نه یم په دے بانډ خوشحاله
خوشحاله ټول وطن د رب په دے کرم عظیم دے
په دور د جهانزیب کښې چه موږ څو شو لوے دسیاله
شکر بیا پرے شکر چه پیسته له دے ذات شه
معراج د ترقۍ څوک نه نصیب د ذوالجلاله
پښتو نه راشه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دے
وا وره درته وائي د هر ګل ژبان د حاله

PUKHTO.NET



معراج د ترقۍ چه د دے ذات په فخر بیاموند
ګڼي هر نفر لکه سورما څوک نه د خیاله
عزت دے که عظمت که د دولت دے جهانزیب
راحت د مسرت دے وصول تا کړه د اقباله
اوار د خوږ وطن ته که غوږ کیږدے څنګه وائي
اګر شه په دولت د خپل وطن د لایزاله
په دربار کښې د خالق به د نشتر وي دعا دا تل
آشنا کړه موږ د خوږ وطن د ننګ د لوی کماله

### طرح ۲

ملوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ملوطیه نیمه شپه کښې جهانزیب بله کړه شمع
ملوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

اُوچت یې کړه خوږ راګ پسې شروع شو نو بتونه
مائِل شوه دَ هر مُلک دَ هر وطن نه و ته سمعَ
زاغان که خا پیرکِ وُو روان کل شوُ نا
دنړا دَ جهان زیب کړه له دې وارو قلع
خوږ وطن ځمونږ به دَ جنت نه یو حساب شي
دَ درد دَ لایزال نه دَ نشتر شوه داسې طمعَ

---

## طرح ۳

هر سړي موندلې لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

فِضا دَ کرم ستا چه نن پسې ځمونږ لپاسه ده
هر سړي موندلې لویه برخه ستا دَ لاسه ده
سیرت دَ فرښتو نه فیض دَ نمر نه مِ آ قا
حَسین چهره در کړې لایزال عجب دَ ناسه ده



سوات دَ ګکو کړ خو دَ قِسمت چه دِ اصلاح کړې
سکندر مونږه ټولو ته زیبا له نن خوا سره ده
وطن دَ پښتنو چه په رشتیا سره جنت کړه تا
دَ حال ئې به ګو یا دَ هر چمن پرې دَ احسان ده
شاد پښتنو دَ وطن زیبه! جهان زیبه
دا هر صبا دِ په کو دار دَ چپور اسره ده
طوطیان له دې چمن به دِ تل ستائې په نغمو سره ده
منحوس زبان دَ زاغ ده چه محروم له دې سپاس ده
نه پښتون در ته قائِل چه په احسان نه شي
به کامیاب نه شي تا بت ځمونږ دَ قیاس سره ده
اے ځمونږ سُلطانه مُبارک بیا مُبارک دِ شه
دنیا دَ نشتر دا ده چه سکندر له قرطاس سره ده

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۲

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

پښتون به خوار شی څنګه چه بادشاه یې دا آمین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

نه یم ریاکار څکه نه خوښ مې ریاکار شی

ځای د ریاکار به په آخر کښې تحت ترین شی

کیده لې قدم ځما د سوات په سرزمین کښې ته

ګوره کائینات چه څوک وطن ځما آئین شی

دے د دم قدم د عالیجاه بلند نمر ځمونږ

زیات به له دے حاله استقبال ځمونږ رنګین شی

آباد لرے خاونده حکمران ځمونږ د سوات

په سوال دِ د نشتر له فرشتو نه هم آمین شی

احمد جان نشتر سکنه علیګرامه سوات



## شاغلے مولوی ضیاء الحق صاحب

## علیګرامه سوات

## طرح ۱

پوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

...تل حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله

...څوک دِ هر منده کړه له خپل جود اوله نواله

...ول ستا دعاګی کوی که څوک لوی دی که خورد ساله

پوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

...جوړے په هر ځای ځمونږ د پاره مدرسے کړے

...څوله د هر سړی دِ د علمونو همه سے کړے

معمور دِ کړه کل واړه د هنر او د کماله

پوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

داهغه افغانان دی چه پیشه ئې شه شدت و
له رورا وله عزیزه ئې بغض و عداوت و

بل کار به لږ دوی نه وه ئې له جنګ او له جداله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

اوس ناست دی په آرام سره کوی عیش و عشرت
پیدا ئې وله بل سره دے انس او محبت

تول ستا شکر کنا ردی خلاص د ظلم د جنجاله
یو زه یوازې نه یم په دے باندې خوشحاله

جاری په هر مقام باندې ستا بحر د کرم دے
ن ستا په اهتمام سره تول سوات باغ ارم دے

پاک رب دې معمر په عمر نوح کړه نیک خصاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

پو نز تل حکمران اوسے آشاه بلند اقباله



په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی
وات په سرزمین کښې جهان زیب د حکمران وی

اسوال حمونږ قبول کړے پخپل فضل ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

پاک رب دې معمر په عمر نوح که نیک خصاله

ضیاء الحق دے ستا غلام حلقه بګوش
ې کړے له خپل لطف و کرم نه فراموش

د اسې خاکسارانو پرورش کوه دعاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

هر څوک د ښه منډ کړه له خپل جود او له نواله

مولوی ضیاء الحق، علیګرامه - سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلے جناب سلطان محمد صاحب منکوړیؔ

طرح مصرع

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دا لوئی رحمت د رب دے په جهان دې بے مثاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
دنیا کښې د هر قوم د انتظام نشته امیر
هیڅ امن ممکن نه دے بے امیره په جهان
دا شاه بلکه عدم دی چه آمین وی د جهان
رحمت خوئ فرشته خوئ والی دے بے مثاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
بے لوئی تر بے دریا تل د خپل قوم کوی خد



روز غمخوار د قوم د ترقئ دے یو په محنت
امی دے تر بینه ځکه رب په د غه نیک خصلت
جلال کمال یے ځکه دے د رب نه بے مثاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
ائی څوک نه د سوات دے جهان زیب په زړه سلیم
ان د هر نیک کار دے بِلاریب په زړه حلیم
قبول د عام الناس دے شرافت لوی عمیم
صد آفرین پاچا شه دے اوالی ستا په افعاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
روښانه شه تاریخ هم د گل سوات ستا په دَوران
قائل ستا د انصاف ځکه هر څوک دے د جهان
و اصل مجاهد یے د خپل مذهب دِ کړه روښان
قائد لقب د سوات صدرِ اعظم یے بے مثاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سوات یو گلستان دے ته هم گل ادهم شی

دادرس دَهر مظلوم یے ته سایه دَهر شی

ته سورے دَرحمت یے ته رهبر دَهر بشر

دَنیال توم پشت و پناه یے کشتیبان یے بے مثاله

یو زه یوازے نه یم په دے بانڈ خوشحاله

در اصل ته دَخدائے یے پرستار دے یے په خلو

ستا نیک عمل دَهر مومن په زړه جوړ شوے مو

دَهر مفسد دَ زړه نه حسد دور شه ستا په چو

نن سوات دار الامان شه په آرام دے بے مثاله

دعاء رب ته مدام کوم زه مرزا سلطان

امان دے دَ زوال کړی رب دَعدل دا میزان

قایم دے په جهان وی دَ اقبال ستورے روښان

فصیح ملیح بشر څوک نبرو الی دے بے مثاله

یو زه یوازے نه یم په دے بانڈ خوشحاله

PUKHTO.NET



## طرح ۳

طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناستر جمع

---

دا باره د سمبر دے یو نسیم دَ نوبهار

طوطیان په گلستان کښی په خندا کیناستر جمع

دا باره د سمبر دے پنځم کال څلورنبر دَ عیش

ان بوبه دَرحمت دے دا تاریخ څلورنبره بیش

رښندله کواکب دے دا اقبال څلورنبره خویش

دا ستورے دَرحمت دے جهانزیب دَهر دیار

رنړا یے پر سوات بونیر دے کل جهان دے په طمع

ماده دے جهانزیب رب په سادل بانڈ کړی عمر

باره دَ ظلم لاړه نن په سوات شروع دے فجر

شب روز څخوږد دَقوم دے تل ظالم ته کوی قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ امن فرشته ده دَ رحمت دَ رب غفار
دا سوات دار الامان دے په رښتیا سره بے غمه

دَ قوم دَ ملک دَ پاره شب و روز کوی محنت
هم خوب او هم خوراک ئے دے دَ قوم په محبت
عاشق دا جهان زیبا دے معشوق دَ خپل رعیت
دراصل مجاهد دے، ردِ بدعت، شو سره لا
دُعا دَ عام و خاص ورته جاری ده هر دمه

ملیح دے هم فصیح دے جهان زیب دَ هر بشر
ناصح دَ هر قبیح دے دل صفا دے په عنصر
روښان پرے کل جهان دے معطر دے منور
اَنتَقشُ فِی الحجرِ ئے په دنیا جوړ شه یادګار
مقبول دَ عام و خاص دے مشهور دَ تول عجمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېنا سته جمعه



سوال ته په درګاه دَ رب غفار کړه اے سلطان
کل مخلوق دے هم رښا زیب دَ جهان
دَ ترقئ عروج دَ سوات دے دَ آسمان
دَ عدالت د به جاری لوے په جار
روښانه پرے کل سوات دے زړه خالی لړی دَ غمه
طوطیا په ګلستان کښې په خندا کېنا سته جمع

طرح ۳

سری موند لے لو یه برخه ستا دَ لاسه ده

دَ صبائی شوے چه رښا دے عام خاص ده
سری موندلے موند لے لو یه برخه ستا لاسه ده

رحمت ئے ته تا فیض رسی هر چا ورته
رحمت ئے چه جاری شو لے هر خوا ورته

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیب دَ کل جهان شوے دَ زیرو نه بالاوَ ته
ابر دَ بهارِ یے غنچه زمکه ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته باد نسیم یے چه مدام بهار دَ ګلو یے
خو بنه منقسم یے چه مدام سهار دَ ګلو یے
خو بنه منتظم یے چه مدام معمار دَ دَ لوی یے
هر پښتون شرف رتبه مونده ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته خوشبویه ګل یے زیب دَ باغ او دَ جهان یے ته
ته زیبا دَ وربل یے سیال دِ نیشته عالیشان یے ته
ته قدر شناس یے قدرمنده قدردان یے ته
تل عفوه سزا په مظلومانو ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده



تل ته مساوات دَ هر مسلم کړوے دَ ځان سره
نشته عدالت کښی تفاوت زیرو بالا سره
ځکه رب نظر دَ رحمت کوی له تا سره
ته مشعل دَ سوائے رڼا یے پر ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

باره د سمبر ده دا پنځمه سالګره دَ ستا
هر سړی مسرور دے! استقلال دَ خپل ملک دَ جا
بخت دِ بار آور شه! جهان زیب! شه تا بنده ماه
تل کوی دعاء سلطان محمد چه یے دَ لاسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیب ستا دَ جهانٔ، جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته صدف یې دُرشهوار ستا جهان زیب دے
محفوظ دا امانت سا ته دَ رب نه ستا دا زیب دے
تل خیال یې تو کمال سا ته زوال یې ستا هر عیب دے
کمال یې ستا کمال دَے دا کلام که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته تاراج وَے تل دَ غیرو وے آماج
بے سره سر پرست تباه برباد لکه دُ حاج
صد شکر دے مالک شوې دَ خپل قوم دَ ملک دَ راج
سامان هم دَ عروج کمال به ستا جوړ بالیقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

ستا ورانه شیرازه وه، مکمله شوه هښیار شه



معمار دَ خپل قوم پیژنه ځان ویخ کړه بښه بیدار شه
تعلیم صحت، تنظیم شه ستا نصیب شکر گذار شه
دالویَ عمخوار همدرد ستا دا والی دَے که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

حفظان بچاؤ دَ خپل عزت دولت که دِ مطلب وِی
همدرد شه دَ سردار زیب دَ جهان که دِ مطلب وِی
دیوه دَ خپل قسمت دَه، ډیر احتیاط که دِ مطلب وِی
ځان لوئی به سود وړیا کړه په ایمان که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

گمنام وے ته اے سواته تل دَ غیرو وے غلام
ظلمونه، بدعتونه، وران رسمونه نو ول دَ قيام
مالک دَ شریعت دَ سیاست شو لے نیکنام
مشکور به دَ احسان دَ خپل والی شی که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ستا تماشګیره ده ستا دَ عقل په نظام
تل هوش عقل سلیم ساته دَ خپل ملک په دوام
هلال انګشت نما شوې دَ عروج په هر یو بام
تل زیب ستا دَ جهان دې جهانزیبا که دِ یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

ماهر دَ سیاست دې جوړ رستم دَ زمانې
قائد ځمونږ دَ سوات دې یو یادګار دَ زمانې
قاسم فاتح دَ سوات دے دَ بدعت دَ زمانې
ژوندے نوم آبدي شه، زیب دَ سوات که دِ یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

دراصل خیر الناس دے د استاد ځمونږ دَ قوم
رحمت دے دَ الله ځمونږ دَ پاره دَ قول قوم
بشر دَ رب په فضل دے غیبي رحمت دَ قوم

PUKHTO.NET



ماهر دَ سیاست عقل سلیم که دِ یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

در شب و روز کوشش جاري دے ستا دَ ترقۍ
نه خرچه ستا اولاد له جوړ بنیاد دَ کامیابۍ
دَ ټولو نه وروستې وے اوس شو وړاندې په سیالۍ
اے سواته خوش قسمته په خپل دین که دِ یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

مزا سلطان به تل دَ رب په در کوي داسوال
عزت ژوندون مدام ورکړے دَ خضر په مثال
دائم دِ دَ قسمت دَ سوات اسانۍ تل دَ زوال
تل زیب دې دَ جهان په جهانزیب که دِ یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

---

سلطان محمد، منګوره، سوات

# ښاغلے شیر صاحب چند خوړه سواتی

## طرح ۴

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شي

تیاره کښې رڼا هله وي ښکاره چې عارفین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شي

تیاره نوره تیاره وه چې لا نه وه حکومت
نه علم نه ادب وه نه چا پېژند شرافت
هر څوک وو بې خبره د هنر او د حکمت
نه دول وه د خلقو او نه دا زیب و زینت
همت اوکړی مالیار نو مراد بوټی هله شین
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شي



همت د جهان زیب چې کړه د عدل ډیوه بله
پښتنه د خیل قام نه یې د هر تکلیف کوله
فائده د رعیت به یې هر وخت لټوله
مدام میوه د رحم یې په هر مقام کوله
اوس وائي ټول قومونه چې به ښاد آفرین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شي

اوس وائي ټول په شوق چې د شاه یو وفادار
قائم دې وي تل دا سلطنت پروردګار
دا ښکلا وطن باغ شه په دې باغ تازه بهار
رښتیني وائي شیر خادم لفظونه د اشعار
راځي دې د هر ملکه نه څوک سیل نه شا یقین شي
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که د یقین شي

شیر، چند، خوړه، سواتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے خور مهرالنساء صاحبه بانو

## کوکارئ، سوات

طرح ۳

هر سهری موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سهری موندلے لویه برخه ستا دَ دره ده

منعَ دِ عطاء نه دَ کبهتر، نه له مِهتره ده

بل چینه جارِی دَ عنایت دِ له دفتره ده

هغه تړے فائزِ چه اراده ئے له اخلاصه ده

هر سهرِی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

بلبل کوی نغمے په باغ کښې تو څې په نخرو

قدم اخلی دَ نازه په رو رو راځی خارو



شر شور کوی طوطیان دَ دے وطن په ...

دا ستا بنګلے دَوران بنه زمانه ځکه به هرکله

هر سهری موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

قومه خوشحالیګئ چه ننبارهٔ د سمبر دے

والی صاحب په دے ورځے اینبودے تاج پسرِ دے

دا ورځ دَ خوشحالئ ځکه په هر سهری اختر دے

خوشحاله نن عالم دے خوشحالی پرے بے قیاسه ده

هر سهری موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ستا بنګلے دوران دے پرے مزے دَ غریبانو دِی

خاندِی خوشحالیږی خوشحالئ به مظلومانو دی

سختِ ورځے نن دَ ریاست په ظالمانو دِی

رب دِ اجر درکړی داد عامِ خاص الخاصه ده

هر سهرِی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

تا دَ علم جال په وطن خور کړهٔ فیض رسانه

هر یو کارِ خیر کړے ته خپل قوم له مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ فیضِ عام نه رعیت ښه تول ښاد انه
څکه دِ رتبه په بادشاهانو کښې پیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

حق چه ستا دَ شکر نه منی هغه انسان نه دے
نه محسن هغه دے چه قایل دِ دَ احسان نه دے
رب چرے ملګرے دَ ناشکره مسلمان نه دے

ستا ده دُعاګو څکه بانو چه حق شناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

## مهر النسآء بانو ، کوکارئ ، سوات



## ښاغلے پیر محمد خان صاحب ، ډاګی ، سوات

---

### طرح ۱

زه یوازے نه یمه په دے بانِدِ خوشحاله

خیر یوازے ما دَ پاره نه دے خود عام دے
هر سړے رضا دے څکه خلاص شو دَ جنجاله
زه یوازے نه یمه په دے بانِدِ خوشحاله

نشته دے خفه د رنه هیڅوک دَ سوات په ملک کښې
نور ملکونه وائی چه شو لانِدِ ستا دَ جاله
رعیت به بے خود فخر کوی چه ستا غوندِ یې شاه وی
هر سړے دِ لانِدِ دے پوره پوره دَ خیاله
داستا دَ توفیق سوال چه کوی په خاموښئ دَ تول
بل تا غوندِ څوک نشته چه دشمن کوی بے مجاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ستوا که حیوانات که جمادات دي ټول نارې وهي
عادل يې ته عادل اے والي شاه باکماله
پوره به وصف نه کړي که شروع پير محمد خان شي
که تیر به دے وینا کاندي اتلس نولس کاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

طوطیان په ګلستان کښې د خوشۍ کړي خندیده
د یو شاخ نه کړي بل شاخ ته د نازه جهیده
تیاره د خیره لاړه زاغان ځکه رمیده
د ده د مخه تختي دښمنانو تیروي دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

تیاره د ملکه لاړه په وطن آباداني ده
ویستلي دي دوستانو د آرام زندګاني ده



چه بغض لوي زړه کښې دېره يې زياته ناداني ده
قربان چه لتاس کړي ورسره ئې د عقل قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

وطن د د ختن ځئې دو چند جوړ که نقاد
خوشحال به وي هغه چه کړي تير ساعت په ياد
نه جهل شته نه مکر نه فريب شته نه فساد
دا رحم دے چه بله شوله ستا د حسن شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

په ورځ د تاجپوشۍ خلق يو بل ته مبشير شو
د ځمکې زير ګنجونه د زمين سره ته ظاهر شو
د چالاس کښې چه خاک وو هغه واړه جواهر شو
ته يې سنګ فارس خلق به زر کړے لري طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

په فضل د الله د هره چاره منتخب شه
بالا دي په شاهانو کښې اے شاه لوي منصب شه

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دے صاحب وطن وا ړه په مثل د جنت دے
خوشحاله ترے هر وخت تمام وا ړه رعیت دے
دعا ورته کوو نږ دا هر یو کار دِ ئې سنګین شي

دعا ورته کوو نږ دا دعا دِ رب قبوله کړي
خلاص دِ ئې په دین دنیا کښې پاک الله د نوله کړي
نیکه ئې غوث الزمان دے په دعا دِ ئې رنګین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

نیکه ئې غوث الزمان دے په سیدو شریف مزار لري
تخت ئې ترے دښمن شاه جهانزیب لاس کښې تلوار لري
شي دِ مبارک هم مبارک دِ همنشین شي

شي دِ مبارک مبارکي مونږ له بکار ده
وی پیر محمد خان د داګي پاکه ورته لار ده
دا دور دِ قایم وي هم قایم دِ ئې آمین شي
دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دِ یقین شي

پیر محمد خان داګي، سوات

PUKHTO.NET



# بناغلے محمد نوشیروان صاحب شاه ډیري

## ریاست سوات

---

## طرح ۱

## یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے خبر که د احواله

خوشحاله هر انسان د خوشحالي کړي کور په کور
بورا په سرو غنچو د باغچو کوي لور په لور
بلبل د ډیره جوش ځان له جوړ که تنګ تکور
بادشاه چه عادل راغے خلاص شه د خلق جنجاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

بادشاه د عدل راغے هر ځائې جوړ شه انصاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق په ستر که اوګوره پکښې نشته خلاف
بېړه شرع او په سکې تل په یوګودر کښې صاف
قلم ۲ شه ناچاره ستا د وصف د کماله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله
قلم ۲ شه ناچاره ستا د وصف نه سلطانه
عادل ې رحمدل ې په غریبو مهربانه
رشتینې ظل الله ې اے حمو بزه حکم انه
بادشاه د هر وطن شې سوال کوم د ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یم په دے باندې خوشحاله
بادشاه د روئ زمین شې دعاء کوم شام و سحر
تاریخ د تاجپوشئ دې په باره دسمبر
داورځ د خوشحالئ ده پیو بز باندې لوی اختر
مرزا نوشیروان ځکه په جوش کړې د خیالله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے ځان خبر که د احواله



## طرح ۲۷

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع
شکر دے الله چه د زاغانو لړشو طمع
شکر د الله دے چه زاغان شو تار په تار
بیا چه شه په سوات کښې د مظلومو مددګار
فضل پیو بزو شه د خالق غنی غفار
د ظلم تیاره لاړه چه روښانه راغله شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع
تیاره د ظلم لاړه رڼا ئې شوه په جهان
مولئ دې تل پسرلی حمو بزدا حکم ان
د سوات زمکه ئې جوړه کړه خایسته جنت نشان
د حق په غوږکوو اوره دا خاندا په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حق په نظر اُوګوره دَ سوات په سرزمین
ځائے ځائے بنګلے ښائسته باغچے په ښه آئین
سوال مِ په درګاه کښې دے دَ رب العٰلمین
خاوند دِ لایزاله دَ دشمن ئے اُوباسے قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستے جمع
خاوند لایزاله دشمنان ئے کړے تاراج
ترڅو چه وی ژوندے پسِ دَ ده لوے دا تاج
هزار نوشیروان په محبت لکه دَ دُرّاج
دَ خولے نه ئے دَ جوش توره اُوختله لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناستے جمع

طرح ۳۱

هر سړی مُوندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
شک پکښې هیڅ نشته دا خبره بے وسواسه ده



شک په دے کښې نشته ختم داوره قیل و قال
ظلم ستم زور روه هر سړے وه په جنجال
چه ته دَ سوات زمکه چه ته دا سے ته ول چال
لاندِ په تهذیب چه وه دَ هر چا اُوس لیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
چه وه تهذیب سراسر جوړ وه جهالت
دَ خان ملک دَ لاسه دا وطن وه په زحمت
فضل دَ رب و شه ستا پوے راغے حکومت
اُوس که فکر اُوشی نظاره دَ کوزو پاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
اُوس که فکر اُوشی نظارے دی لور پلو ر
لار دَ موټرے دروهی هر سړے پکښې سور
سرکونه مزین شو آبادی شوه کور پکور
ژبه دَ قلم مِ تیره کړے دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ژبه د قلم تیره کړې په هنر
تاریخ نه چې وکاته وه باره دسمبر
هر سړے خوشحاله کړي جوړ دے پړے اختر
مرزا نوشیروانه خوله دې ډکه د سپاسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

## طرح ۲

### دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي
آواز د صداقت چې وي د هر چا پړے آمین شي
دروغ نه دي رشتیا د ماضي او ګوره حالات
پوره به در معلوم شي حقیقت او واقعات
د عدل زمانه د خوشحالۍ ده نن په سوات
امن دے آمان دے خبردار دې سامعین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي



امن دے آمان دے هر سړے دے په آرام
سوات شه په مثال یوه نمونه دار السلام
غازي د ملت چې ښه خدمت او کړو د قام
په خپله به قائل شي که دې زړه کښې دا آئین شي
په خپله به قائل شې چې خبر شې په احوال
چې ته په دنیا کښې به ئې بیا نه شې مثال
دائم دې وي قایم دې وي دا ستوري د اقبال
قبوله که دعا مې په درګاه د رب متین شي
قبوله که دعا مې شي په در د پاک اکبر
مبارک دې تا جیوشي وي نن په باره دسمبر
مرزا نوشیروانه ستا پوره نه شه دفتر
که لاندې د نظم نه دې تاریخ د سنین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

---

مرزا نوشیروان شاهدیري، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلي شير افضل صاحب افضل

## سيدو شريف، سوات

---

### طرح ۲

طوطيان په ګلستان کښې په خند اکينا سته جمع

---

چه بله ورته شوه د جهانزيب رخسار شمع
طوطيان په ګلستان کښې په خند اکينا سته جمع

ګلونو هر طرف ته په بوستان کښې اوکړو زيب
ځاى په ځاى انصاف دے چې ته نښته دے فريب
هر ځاى امن آمان دے په اقبال د جهانزيب
شمشاد ئې سلامي له راځي د باغ رمه
طوطيان په ګلستان کښې په خند اکينا سته جمع

طوطيان ئې سلامي له راځي د سردرونه



پاتے به حيران شي که خبر شوے د قصو نه
تياره د جهل وه نے ده د سوات د کنارونه
هر ځاى خوشحالي ده سالګره ده د ن شپږمه
طوطيان په ګلستان کښې په خند اکينا سته جمع

هر ځاى خوشحالي ده ګل د ګل سره سيالي کړي
سواتيان بے غمه کړي ټول خوشحاله خوشحالي کړي
خدے دے لما مت چه حفاظت ئې دا مالي کړي
هم وم ئې پرايخے نه د څوک د لطف ذکر مه
طوطيان په ګلستان کښې په خند اکينا سته جمع

هم ومه ئې د دره څوک تلے نه دے
راغلے چه په خيال کښې څوک د ده دے
شک وريکښې نشته الحمد لله ښه پوره دے
افضل والئ سوات ماني د قربان د دے صنمه
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کينا سته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۳۱

هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

کښې نه یم په غوږو ما اوریدلی د عام خاصه ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

کښې نه یم په غوږو د هر کس یم اوریدلی دی
دروغ یمه په سترګو کارنامے ستا کتلی دی
سوات شو لوګلزار چه ظالمان ترې رټیدلی دی
داسے ظالمان په مخکښې ستا د ښو خوړلی دی
اے د عدل ستوریه ما ویستلے دا د قیاسه ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

اے د عدل ستوریه ستا پښتانه حکمران
چا نه به پیدا نه شی که چا نهٔ کړی ټوک جهان
سخاکښې ستا پښتانه به پیدا نه شی داسے خوان



تاجداره نا موره رب دِ تل لره شادان
درجه دِ رب سِوا کړه دا دُعا مِ د والناس ده
هر سړی مونږ لے لویه برخه ستا د لاسه ده

درجه به څه د یار دِ کړه بلنده پاک سبحان
مالیار دِ هم الله لره د سوات به دے بوستان
ډیر به وی کم عقله چه به تا دے وی خفګان
حق تا به حقدارو تقسیم کړے به خه شان
هره فیصله ستا دیوے بلے لپاسه ده

د حق دِ فیصلے دی پرے قائل غیر ملکونه دی
حکمه اے سلطانه هر ځائے ستا صفتونه دِ دی
بنګلے دِ نظام دے ځای په ځای شنه چمنونه دِی
لارے تیارے کړی بل به هر ځای مشالونه دی
افضل وائی عُمر دِ ډیر شه دار نه ستا د اخلاصه ده

---

شیر افضل، سید و شریف، سوات

PUKHTO.NET

# بناغلے خانے صاحب منگوره، سوات

---

## طرح ۱

### یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
هر انسان چه وینم کوګ ګرځی له خیاله

سَوَره سمبالیګی، قد دَ صنوبر وینه
راشه تماشے له، نه دَ قام رهبر وینه
دا زیب دَ جهان دے، ډک دے دَ کماله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دا رحم چه اوشه، ځو نګه په سحر کښی
ګل شه دا ګلاب، په باره د سمبر کښی



دے چه خدائ بادشاه که، شم زار دغه کاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دے چه خدائ بادشاه که په باره د سمبر
لرے ده یو دم که دَ عدل قام ته وَرُ
موسم دَ بسه لی شه، شو خلاص دَ پشکاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

خاوره یو شه زر سره، کانړی یو لعل نه شو
جوهر تری قسما قِسم راشه وینه لعلونه شو
خانے حکمران دِ وی دا بلند اقباله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کینا سته جمع

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
مُلک ټول بهار بهار شه، شوه بل دَ عدل شمع
چه کوم وخت په چمن کښې دَ طوطیانو شه چغار
سړي ځان له جوړ که عجیب ښکلے سنګار
دَ عدل خوشبوئي شوه بلبلان راغله په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
روانه خوشبوئي دَ عدل شوه دَ ښهر یار
په بارهِ دسبر کښې تاج پسر چه کړه تاجدار
غګ دَ اختر اُولګین دَ هر سړي په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
هر سړے خوشحاله شه چه شه دریم اختر
شروع عدل انصاف شه لړ شه دَ عدل ورز
ډیره خوشحالي شوه دَ هر چا وچه شوه دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع



دا عدل انصاف نشته نن په زمانه
لوی واړه ځمونږ ژړه شو په عقل پیمانه
اے خانے قصابه هر څوک پوهه شو په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

طرح ۳

هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی مونږ لوے برخه ستا دَ لاسه ده
جهنډه دَ ترقۍ ځمونږ په ټولو جهان دَ پاسه ده
ستا په همتونو شه لوړ ځمونږ وطن شه
دَ سیالو سره سیال شه، ښکلے هر ګلشن شه
دا ښهر باني دِ هم دَ عدل دِ لباسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ترقئ و رکوي قام له مُلک ښایسته

په باره د سمبر کښې د هر ځا حق ادا شه

راغلے دا نقشه هم د سنې یو کم پنځاسه ده

هر سړی مونده لوئی برخه ستا د لاسه ده

دا کار په اتفاق اُوشه، ستا په نیک خصلت

تل به ته کامران یې، چه وي دې دا صِفت

دا معلومه شوه مونږ ته هغه وخت د قیادت ده

هر سړی مونده لوئی برخه ستا د لاسه ده

اے خانے قصابه، ستا چه خوښه ده نو ان وي

صِفت به دې په خولے کښې د خپل عادل سلطان وي

وتلے دا تګوره یو د سختۍ او د افلاسه ده

هر سړي مونده لوئي برخه ستا د لاسه ده

---

طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي



دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

چه دا عدل انصاف وي جهان به یو رنګین شي

ښهر ښار په وطن وه جوړه د ظلم یو سنګار ووه

یو دم يې صفا کړه چه عادل يې شهريار وه

لیکے د عزتونو سنګارونه په هر جبین شي

دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

خپل حکومت مونږه ملک کښې، خپل په حکمرانان لرو

تول شکر ګذار یو چه داسے رنګ سلطان لرو

هغه مُلک به لوړ شي چه سردار يې خپل مکين شي

دروغ نه دی رښتیا دي په رښتیا که دې یقین شي

د ده په برکت حکومونږه لاړه شه جهالت

په باره د سمبر وطن ته راغے ډېر راحت

دا وي خانے قصابه چه لوی دا په یو حسین شي

---

خانے قصاب - منګوره، سوات

PUKHTO.NET

# بناغلی دِلاور خان صاحب ډاکی

## ریاست سوات

### طرح ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی
یو زه یوازے نه یم په انصاف دَ صاحب کرم
مستی ټول رعیت کوی دَ هر قسم چه کور دی
پردی مال ته کاته دی دَ هر چا په زړه کښې شرم
غنیان واړه سواتیان شو، لمتوی دَ دولت لوری
انصاف دَ شاهِ سوات اکره دَ ډاکوانو خاطر نرم



اکثر صاحبِ مال شو زکوٰة ته نے خپل زوری
مخلوق تعلیم یافته رعیت ټک شه دَ کماله
قایم دِ دا انصاف وی خزانے چه پرے مشکور دی
قائم دِ حکومت وی تر څو چه وی دنیا آباده
بلاس دِ دَ شاهئ دَ صاحب دا ز تخیر محکم وی
بهار دَ حکومت دِ خدای ساتی دَ غم دَ باده
دا دور دَ ګلونو دِ په دے ګلشن هر دم وی
دبدب دِ دَ شاه تل وی دا دبدب دَ سوات حیاده
حیا دِ داځو نږه پسی شب و روز هر دم وی
نګاه دَ غریبانو نے دَ سوات شاه رحم خیاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
حکمونه معتمد دِ دَ شاهئ په هر دستور دی
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی
حکمونه دِ وی ستا حاشے دَ حکم اے سلطانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی لکه د متن، متن دی چه د معنا نه
مسکن دی ستا گلشن شی، د گلشن نه ته شې خوانه
ترڅو چه دا دنیاوی ته محفوظ شې د دنیا نه
کشتئ دی ستا تاجدار وی چه تاجدار شی د هر شانه
ایمان دی سلامت شه، سلامت شې د ایمانه
دشمن د رعیت دی همیش ستا وی بې مجاله
ستا تاج دی د دول سوات رعیتانو ته معمور دی
رعیت راضی په ګڼ دی چه د تا پرې نیک خیالات دی
خیالات دی د نیکۍ همیشه ستا د قوم پسر وی
ظلمونه ستا په نیک فهم د خوار و پسر محط دی
برې د خپل نیکه دی همیشه د تا رهبر وی
حقوق د عدالت ستا دی په هر وطن کښې زیات وی
داغمگ دی قاف تر قافه مدام ستا د بر نه بر وی
ترڅو چه دلاور غمگین محروم نه وی د قاله
د هغې دا سوالونه تل په در کښې د غفور دی



## طرح ۲۱

## طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

معموره پرېنده د سوات په مُلک کښې په ثمر دی
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
معموره هر آشیانه د سوات په مُلک کښې په خندا دې
محفوظ امن امان یکښې چلیږی د هر قسمه
موسم د بهار دی د سوات په حد مدام پیدا دې
اقبال د شاه د سوات بدخواهان کړه بې د رسمه
گل هر وخت بلبلو ته د نازه په ندا دې
خوف وخت د گلونو د خزانه د جهان بجسمه
شبنم خو تهی غوټی لیا د گلو مقدار دې
طوطیان او بورا مگان خوشنود پکښې کیناسته جمع
طوطیان او بورا مگان په سوات کښې ځکه معتبر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم په عدالت په سوات کښې هر زمان ګلزار دے
دَ خوف نه نه خزان خفګان ژړه یکي کور و کړه دِی
حیران څوک نه وطن ته نو تول کابل او قندهار دے
موسم پرے معتدل ګرمي یخني سم برابر دی
آبي دَ سوات هر کلے په نیک فهم دَ سر دار دے
چمن چمن څو نه دَیورب څخه بهتر دِی
مخلوق دَ هر وطن دَ لته شاد اکینا ستهٔ جمع
راځي دَ سوات لیدو له دَ هر قِسم مخلوقات
والی صاحب دَ سوات نام منور که قاف تر قافه
حافظ دَ سوات ایستلی بد خواهان دِی دَ هر بات
منسوخ ظلم زور شر آن دَ هر قِسم اسرافه
رهبر دَ غریبانو دا سلطان دے عالی ذات
ګواه پرے ټول عالم دے چه هر ځای کښې دَ انصافه
مشتاقه دیر عالم دَ سوات دَ شاه عدل ګستر دی
بد خواه دَ شاه دَ سوات ګوشه جدا کیناسته جمع



دا دور دِ مدام وِی په قِسمت دَ حکمران
شاهي چه دَ اول آخیره وی دَ ټول اولاد
ګلشن ګلشن دِ سوات چه راهي وی پرے طوطیان
طوطیان او میلا نه پکښې اوس سیږی خادو نباد
واصِف چه دلاور غمګین تر بخیل لسان
دا ځول دِ دَ سوات وی په والی صاحب آباد
ګلو نه دو لس میاشتې په باغچو کښې معطر دِی
زاغان تر په ارمان کښې په سود اکیناسته جمع

---

طرح ۳

هر سهری موندے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

خوږه سا ئِلانو اِرادہ چه دَ کوم کار کړے
هر سهری موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښ سائلانو اراده چه د دولت وکړه
نول هغه مايوس شو پکښ يو پاتے محروم نه شه
واړه فقيرانو افسانه دے د شهرت وکړه
پاتے يو سائل په سوات خوار ځاته په نوم نه شه
دا د تقسيم برخے په جمعه کښ حرکت وکړه
هر سائل سخی شه نام هرګز پاتے د شوم نه شه
ځکه په يورپ ايشيا د سوات نامے اظهار کړے
چترے پس د بادشاهۍ لمن نيا سر ده
دا د شام ثانی په سوات کښ بل چه دويم شام جوړ شه
ځکه د ير عالم پکښ د هر ځائ تماشے کوی
دا د سيدو غوث په [illegible] ځائے د اسلام جوړ شه
سوات ځکه د [illegible] په دې وطن کښ پلوشے کوی
هر رنګ طالبان پکښ د هر علم انجام جوړ شه
هر رنګ ملنګان پکښ په هر رنګے نشے کوی



هر رنګے غنچے در پکښ هر رنګے بهار کړے
هر رنګے باغچه پکښ د هر ثمر بے قياسه ده
هر رنګے هنر پکښ د چين او د ختن شته دے
هر رنګ نقاشيان پکښ قابل په امتحان شته دے
هر رنګے فيشن پکښ تيار د هر وطن شته دے
هر رنګ فيشن ساز يعنے تهيلو په هر مکان شته دے
دا د سوات د شاه د هر بنده شان ګفتن شته دے
دا ئے د هر قسمه فن په سوات کښ قابلان شته دے
دا د سوارئ د سوات صاحب دارومدار کړے
ځکه دبدبه د سوات تيره خود د الماس ده
خود به ترقی د غه د سوات نام عجيب کوی
مل چه ئے په نيکه خيل تاجور د هره بابه دے
تل د سوات سلطان رائے دوستی د خوار غريب کوی
ده د عدالت خنجر ويستلے د نفاق به دے

PUKHTO.NET

همے پرورش کړی همے غور د طبیب کوی
هم دے نیکوکار او نیک کردار د هر حسابه دے

داسے نیکه برخه چه د قوم سره تاجدار کړے
برخه جهانګیری ئے رسیدلے د والناسه ده

نامه ئے ج او ه الف ن ز ی ب بهتره ده
فکر ورته او کړه چه عقل ورته خام نه کړے

جیم ه الف یو ځای او د نون بیله خانه غوره ده
ز یوازے کور دے ی ب یو ځای بد دے فام نه کړے

دا جهان خائسته برخه ئے نام کښی مقرره ده
نام که د حضور کوے حرفونه بے دوام نه کړے

دا د صفت باغ کښی نوکری چه کوم غمخوار کړے
خوښه باغبانی دے دلاور ته چپوراسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---



طرح ۲

## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

تعلیم د عدالت عاقله ته او کړه په سوات کښی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

تعلیم که د انصاف کوے اول پرے امتحان کړه
داخل چه شی اول په سوات کښی نوم ئے لنډاکے دے
محصول د سوات د حد د ئے نه آګاه ته خپل ځان کړه
تپوس د میلمنو د محصول د دوئ ته کار سپکے دے

په ورځے پنځه حکمه پرے د عدل شاهجهان کړه
اخلاق د بد فعلی په خوله کښی خوند تریخ شمکے دے
اخته که ځا ځد کښی مسافر شه په پنجات کښی
برباد به تو ژوند حیاوی په دنیا که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

دروڼ چه میلمانه شي په مزه د سوات بهار ته
مالیان د حفاظت د پاره وي ورته موجود
پولیس حفاظتي دي تقسیم شوي هر دیار ته
ځاې د ستړي مشئ میلمنو له ورکړي سود
نوکر کوي منځه د خدمتونو خپل تاجدار ته
صاحب د نوکرانو جوړئ د حیا بود

خوشحاله میلمانه شي د هر قسمه په غم قات کښي
کاروانه ئې بې ریا دي په ریا که د یقین شي

روان چه میلمانه شي په مهم کښي د سلام
مطلب ئې په زړه داوي چه یو اوکړې ملاقات
منشیان کړي د صاحب ورته د هر کلي کلام
اې ځوانه نوم د اووایه چه تیر نه شي اوقات
ولاړوي په قول منشیانو دې میلمنو ته لاس په نام
ترڅو چه میلمه نه کړي داخل نوم هغه ته ذات



منشیان قول شریفان د حکمران دي په خپل ذات کښي
په جې قربان نکیا دي په نکیا که د یقین شي

نوم لیک چه هر زامکان کړي زر عادل سلطان له ئې ورکړي
صاحب د باچې کار چه نوکر ته زر اوکړي آواز
فلانے میلمه تشریف د زر دننه مقرر کړي
میلمه په ملاقات لکه د ګل کړي تن خنیر از
حضور د هر کلے قول د خولے ورته هر کړي
مرشد غوندې رازدار شي لکه پیر چه کړي نوک راز

احوال ورته ښکاره کړه دلاور په دې ابیات کښي
ښه واوره داوینا په دې وینا که د یقین شي
دروغ نه دي ریښتیا دي ریښتیا که د یقین شي

---

## دلاور غمګین ډاګي سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ناظرینو په خدمت کښې

خاص عوامو ته او بیا خاصکر تعلیم یافته
او ادبی طبقې ته دا ښه معلومه ده چه څومره
په ریاست کښې تر دې څېنه پورې دا سې
یو ادبی شاهکار او دَ ترقۍ او دَ عروج
په حقله دا سې یو مشاعره نه وه شوې
دا اوله مرحله ده چه هر کله حضور
غازئ ملت والا همت فرمانروای
سوات دام اقباله دَ ترقۍ په بام باندِ
کما ینبغی دَ سوات ریاست یو زلیدونکې
نښه اوګرزوله، نو دَ ادیبانو، شاعرانو

PUKHTO.NET



په زړه کښې دَ خپل محبوب حکمران دَ محبت
جذبه را غله، او دَ دې خپل نیک محسن
دَ تحسین نه چپ نه شو پاتې کیدې نو لهٰذا
څو نړ. دَ ریاست ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقي
(تحصیلدار دفترِ حضور دام اقباله)
دَ ریاستِ سوات او غیره ادیبانو صاحبانو ته
دَ مشاعرې پیغام ورکړه نو ښاغلو
شاعرانو خپل خپل کلام دَ پاره دَ شایع کولو
صدیقي صاحب ته را اولیږلو، اګرچه دَ بعضو شاعرانو
شعرونه دَ قافیو او دَ ردیف په لحاظ او دَ بحر په
توازن سره سمه نه خوري لیکن بیا هم صدیقي صاحب دَ
هغوئ دَ جذبات قدر کوی او په خدمت دَ ناظرینو کښې پیش کوی

تاسو ور ———

فضل الرحمن فیضان عفی عنه محرر جناب مشیر ملک صاحب سوات

# د عقیدت ګلونه

راشه لږ اوګوره دا د عقیدت ګلونه
لکه بورا بویږ وه دا د صداقت ګلونه

نن ئې ورځ د تاجپوشۍ چه د والی صاحب ده
شو به پیشکش کښې ورته دا د حقیقت ګلونه

نن ادیبانو شاعرانو په اخلاص او خلوص
حضور ته پیش کړه به د ورځې د محبت ګلونه

هر یو شاعر اظهار د ډیرې خوشحالۍ کړے دے
غازی ملت ته ئې دالئ کړه د عبرت ګلونه

والئ حبیب چه مونږ به نه یو دا یادګار به وی تل
تل به باقی وی دا ځمونږ د خدمت ګلونه

ښاغلے جناب حبیب الرحمٰن صاحب حبیب کالوج

---

بکتابت فضل الرحمٰن فیضان سوات عفی عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلوم ورته خند پړی او ظالم کوی فریاد
د زړۀ په وینو تـکی دا زمـا قـلم لیکی

سیف الملوك صدیقی

# ځۀ انتظار کوۀمه ستا د سترګو



ځۀ انتظار کوۀمه ستا د سترګو
سیف الملوك صدیقی



ځۀ انتظار کوۀمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ئۀ زما د سترګو

چې په ګلونو د دنیا کرم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو یمه یواځې ئۀ یم
اوښکې بهیږی د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګوکښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنیا لټوۀم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صدیقیؔ خوښ دے په خلوت د دنیا
چرته به پټ شی د دنیا د سترګو

جان کتاب کور
JAN0345K951961KS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**